
د افغانستان اسلامي امارت

د تخنیکی او مسلکی زده کړو اداري
او
د اوبو او انرژي وزارت
ترمنځ
د همکارۍ هوکړه لیک

تفاهمنامه همکاری
میان
اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی
و
وزارت آب و انرژی

کال ۱۴۴۵ مطابق ۱۴۰۲



## سریزه

د افغانستان د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره تل هڅه کوي، ترڅو د ارګانونو، دولتي ادارو، تصدیو او خصوصي سکټور د اړتیاوو او کاري شاخصونو په اساس د هغو میکانیزمونو او طرحو په رامنځته کولو او پرمختګ سره چې د کار بازار او وخت له غوښتنو سره سمون لري، د رغنده او موخه ایزو زده کړو زمینه برابره کړي، او د ښوونیزې فضا (نظري او عملي) په برابرولو کې د متقابلې مرستې د روحیې په رامنځته کولو کې محکم عملي او اغېزمن ګامونه اوچت کړي، ترڅو د هېواد راتلوونکي جوړونکي د ټولنې د اړتیاوو په بنسټ د مسلکي او متحرکو اشخاصو په توګه د فني، حرفوي او مسلکي پوهې او مهارتونو په لاسته راوړلو کې په پشتکار او متقابلو ژمنو سمبال کړي.

د هېواد د مسلکي کادرونو د ګمارنې په موخه اړینه ده چې دولتي، نیمه دولتي او خصوصي همکارې ادارې په مرکز او ولایتونو کې د هغوی د تعلیمي او تحصیلي څانګو په پام کې نیولو سره د پرکتیک دورې د زمینې په برابرولو، او دغه راز د پرکتیک دورې څخه وروسته د خپلو اړتیاوو سره سم د هغوی د ګمارنې په برخه کې اقدام وکړي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره ژمنه ده، چې د امکان په صورت کې د همکارې ادارې سره په همغږۍ د خپلو فارغانو مهارتي وړتیاوې د همکارې ادارې د غوښتنو سره سمې برابرې او د اړونده ادارې د اړتیا سره سم د هغوی لپاره د ظرفیت لوړولو زمینه برابره کړي.

## مقدمه

اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی افغانستان دایماً تلاش می نماید تا زمینه آموزش هدفمند و سازنده را بر اساس نیازمندی ها و شاخص های کاری ارگان ها و دوایر دولتی و تشبثات و سکتور خصوصی با ایجاد و انکشاف طرح ها و میکانیزم هایی که با بازار کار و اقتضای عصر و زمان مطابقت داشته، فراهم آورد و در جهت مساعد نمودن فضای آموزش (تیوریک و پرکتیک) با ایجاد روحیه همکاری متقابل گام های استوار، عملی و موثر بردارد تا آینده سازان کشور، منحیث یک فرد مسلکی و با تحرک بر اساس ضرورت و نیاز جامعه با پشتکار و تعهدات متقابل در جهت کسب دانش و مهارت های فنی، حرفوی و مسلکی آراسته گردند.

جهت استخدام کدر های مسلکی کشور، ضرورت دانسته میشود تا ادارات دولتی، نیمه دولتی و خصوصی همکار در عرصه زمینه سازی دوره کارآموزی در مرکز و ولایات بادرنظر داشت رشته های تعلیمی و تحصیلی آنها و همچنان استخدام آنها بعد از دوره کارآموزی در مطابقت به نیازمندی خویش اقدام نمایند.

اداره تعلیمات تخنیکی ومسلکی متعهد است تا در صورت امکان در هماهنگی با ادارهٔ همکار، توانمندی مهارتی فارغان خویش را مطابق به خواست ادارهٔ همکار عیار و مطابق به نیاز اداره مربوطه زمینه سازی ارتقای ظرفیت را برای شان مهیا سازد.

## اول څپرکی

## عمومي حکمونه

**د تفاهم لیک موضوع**

**اوله ماده:**

په همکارو ادارو کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو موسسو د پرکتیک دورې سرته رسول؛

**د تفاهم لیک اساس**

**دوهمه ماده:**

دغه تفاهم لیک د تخنیکي او مسلکي زده کړو د پرکتیک دورې د لایحې د پنځمې مادې په اساس د اړخونو تر منځ لاسلیک شوی دی.

**موخې**

**درېیمه ماده:**

دغه تفاهم لیک لاندې موخې لري:

1. په همکاره اداره کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو موسسو د فارغانو لپاره د پرکتیک دورې برابرول؛
2. د کار له نړۍ سره د تخنیکي او مسلکي زده کړو موسسو د فارغانو بلدتیا؛

**اصطلاحات**

**څلورمه ماده**

1. **کار زده کوونکی:** د تخنیکي او مسلکي زده کړو موسسو هغه محصل یا فارغ چې د پرکتیک دورې د سرته رسولو لپاره همکارې ادارې ته ور پېژندل کېږي؛
2. **د پرکتیک دوره:** د هغې مودې وخت څخه عبارت ده چې محصلین یا فارغان یې د عملي کار زده کړې په موخه په همکارو ادارو کې تېروي؛
3. **همکاره اداره:** د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې سره د تفاهم لیک اړخ چې دولتي، نیمه دولتي او خصوصي ادارې پکې شاملې دي، او پدې تفاهم لیک د اوبو او انژي وزارت دی

## فصل اول

## احکام عمومی

**موضوع تفاهمنامه**

**ماده اول:**

سپری نمودن دوره کاراموزی موسسات تعلیمات تخنیکی ومسلکی در ادارات همکار

**مبنی تفاهمنامه**

**ماده دوم:**

این تفاهم نامه بر مبنای ماده پنجم لایحه دوره کارآموزی تعلیمات تخنیکی و مسلکی بین طرفین عقد گردیده است.

**اهداف**

**ماده سوم:**

این تفاهمنامه دارای اهداف ذیل میباشد:

1. فراهم نمودن دوره کاراموزی برای فارغان موسسات تعلیمات تخنیکی ومسلکی در اداراه همکار؛
2. آشنایی فارغان موسسات تعلیمات تخنیکی ومسلکی با جهان کار.

**اصطلاحات**

**ماده چهارم**

1. **کارآموز:** دانش آموز و یا فارغ موسسات تعلیمی وتحصیلی تعلیمات تخنیکی ومسلکی که بمنظور سپری نمودن دوره کارآموزی به ادارۀ همکار معرفی میشوند؛
2. **دوره کارآموزی:**عبارت از مدت زمان است که دانش آموزان و یا فارغان در ادارات همکار جهت آموزش کار به شکل عملی سپری می نمایند؛
3. **ادارۀ همکار:** طرف تفاهمنامه با ادارۀ تعلیمات تخنیکی و مسلکی که شامل ادارات دولتی، نیمه دولتی و خصوصی بوده و در این تفاهمنامه وزارت محترم آب و انرژی میباشد.

## دوهم څپرکی

## د اړخونو ژمنې

**د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې ژمنې**

**پنځمه ماده :**

1. د کار زده کړې په موخه همکارې ادارې ته د تخنیکي او مسلکي زده کړو د زده کوونکو ور پېژندل؛
2. د اوبو او انرژي وزارت لخوا پرکتیک دورې ته د جذب لپاره د څانګو په بېلوالي سره د تخنیکي او مسلکي زده کړو د فارغانو د شمېر په اړه د معلوماتو استول؛
3. پرکتیک دورې ته د جذب لپاره د اسنادو په چمتو کولو او د فورمه جاتو په ډکولو کې همکاري؛
4. په همکاره اداره کې د تطبیق وړ اصولو او قوانینو سره سم اړینې لارښوونې؛
5. د پرکتیک دورې د غوره تنظیم او له هغې څخه د څارنې په موخه د څارنیزو فورمه جاتو او لاک بوک چمتو کول؛
6. د لارښوود استاد لخوا د پرکتیک دورې له جریان څخه څارنه او په پای کې له هغې څخه د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې او همکارې ادارې رهبرۍ ته د راپور وړاندې؛

**د اوبو او انرژي وزارت ژمنې**

**شپږمه ماده:**

1. په مرکز او ولایتونو کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د زده کوونکو لپاره د څانګې اړوند د کار زده کړې زمینه برابرول؛
2. د کار زده کړې له پلان سره سم په منظم ډول د کار زده کوونکو ارزول؛

## فصل دوم

## تعهدات طرفین

**تعهدات اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی**

**ماده پنجم :**

1. معرفی دانش آموزان تعلیمات تخنیکی و مسلکی به هدف کارآموزی به ادارهٔ همکار؛
2. ارسال معلومات در مورد تعداد فارغان تعلیمات تخنیکی و مسلکی به تفکیک رشته، جهت جذب آنان به دورهٔ کارآموزی توسط وزارت آب و انرژی؛
3. همکاری با دانش آموزان و فارغان در تهیه اسناد و پر نمودن فورمه جات جهت جذب به دوره کارآموزی؛
4. رهنمائی های لازم در مطابقت با قوانین و اصول قابل تطبیق در ادارهٔ همکار؛
5. تهیه لاک بوک و فورمه جات نظارتی بمنظور تنظیم بهتر دورهٔ کارآموزی و نظارت آن؛
6. نظارت از جریان دورهٔ کارآموزی و ارائه گزارش به رهبری ادارهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی و ادارهٔ همکار در ختم دوره کار آموزی توسط استاد رهنما.

**تعهدات وزارت آب و انرژی**

**ماده ششم:**

1. فراهم سازی زمینه کارآموزی مرتبط به رشته برای دانش آموزان تعلیمات تخنیکی و مسلکی در مرکز و ولایات؛
2. ارزیابی منظم کارآموزان در مطابقت به پلان کارآموزی؛

3. د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې ته د پرکتيک دورې د پرمختګ له څرنګوالي څخه د معلوماتو او راپور وړاندې کول؛

4. د کار زده کوونکو لپاره د اړتيا وړ ايمني اسبابو او وسايلو برابرول؛

## دريم څپرکی
## ګډې موافقې

**د تفاهم ليک د ترسره کولو او پلي کولو ميکانيزم**

**اوومه ماده:**

1. ددې تفاهم ليک د حکمونو د غوره پلي کولو لپاره د اړوندو اړخونو د مسؤلينو څخه يوه ګډه کميټه تعيين او ګمارل کيږي؛
2. ددې تفاهم ليک د شاملو فعاليتونو او ژمنو د پر مخ بيولو لپاره د ګډې کميټې لخوا يو روښانه ميکانيزم چمتو کيږي، چې کاري پلان، په يوه ورځ کې د کار زده کړې ساعتونو شمېر، د کار زده کړې موده او نور مهم موضوعات پکې شامل وي په ګډه همغږۍ سره طرحه او پلي کيږي؛

**د ګډې کميټې مکلفيتونه**

**اتمه ماده:**

1. د اړتيا په اساس په بېلا بېلو وختونو کې د ميکانيزم د جوړولو لپاره د جلسو دايرول؛
2. د اړخونو د ژمنو د سم او پر وخت سرته رسولو څخه څارنه، او د کار زده کوونکو يا هم د تفاهم ليک د پلي کوونکو ستونزو حلول؛
3. د اړوندو ادارو د رهبرۍ چارواکو ته د ستونزو په تړاو راپور وړاندې کول؛
4. د تفاهم ليک د موادو په اړه د خبرو اترو ترسره کول، او د اړتيا په صورت کې د اړخونو په موافقه د اهغو د يو شمېر موادو بدلول، ډېرښت او لرې کول؛

3. ارائه گزارش و معلومات از چگونگی پیشرفت دورهٔ کارآموزی به ادارهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی؛
4. فراهم سازی ابزار کار و وسایل ایمنی مورد نیاز به کارآموزان.

## فصل سوم
## توافقات مشترک

**میکانیزم اجرایی و تطبیق تفاهمنامه**

**ماده هفتم:**

1. به منظورتطبیق بهتراحکام این تفاهمنامه، کمیته مشترک از مسئولین ذیربط طرفین تعیین و توظیف میگردد؛
2. جهت پیشبرد فعالیت ها و تعهدات شامل این تفاهمنامه یک میکانیزم مشخص توسط کمیته مشترک تهیه میگردد که شامل پلان کاری، تعداد ساعات کارآموزی فی روز، مدت کارآموزی و بقیه موارد مهم بوده و در هماهنگی مشترک طرح و تطبیق میگردد.

**مکلفیت های کمیته مشترک**

**ماده هشتم:**

1. تدویر جلسات جهت تهیه میکانیزم حسب نیاز در مقطع های مختلف؛
2. نظارت از اجرای درست و بموقع تعهدات طرفین و حل مشکلات کارآموزان و یا مشکلات ناشی از تطبیق تفاهمنامه؛
3. ارائه گزارش از مشکلات به مقامات رهبری ادارات مربوطه؛
4. انجام مذاکرات روی مواد تفاهمنامه و در صورت نیاز تعدیل، ازدیاد و حذف برخی از مواد آن به توافق طرفین.

## د اختلافاتو حل

**نهمه ماده:**

ټول هغه اختلافات چې ممکن ددې تفاهم لیک د پلي کولو او یا هم د هغې د منځپانګې د تفسیر له امله د اړخونو ترمنځ رامنځته شي، د ګډې کمېټې له خوا د خبرو اترو له لارې حل کېږي، او که چېرې ګډه کمېټه و نشي کولی چې هغه د خبرو اترو له لارې حل او فصل کړي، نو پدې صورت کې د دواړو خواوو د مسؤلینو او رهبري هیئت له خوا د هېواد د نافذه قوانینو په اساس حل او فصل کېږي.

## د کار خوندیتوب په اړه پوهاوی

**لسمه ماده:**

د انرژی او اوبو وزارت متخصصین د خوندیتوب په اړه د کار په پیل او جریان کې زده کونکو ته لارښوونه کوي.

## د کار زده کړې تصدیق پاڼه

**یوولسمه ماده:**

د پرکتیک دورې په پای کې د کار زده کړې تصدیق پاڼه د اوبو او انژي وزرات د چارواکو په لاسلیک سره کار زده کوونکو ته ورکول کېږي.

## فسخه

**دولسمه ماده:**

اړخونه کولی شي چې د معقولو دلایلو په صورت کې د فسخې نه دوې میاشتې وړاندې مقابل لوري ته د رسمي لیک په لیږلو سره د هغې څخه د تفاهم لیک د ځینو مواردو او یا هم د ټول تفاهم لیک د فسخې غوښتنه وکړي.

## حل اختلاف

**ماده نهم:**

کلیه اختلافاتی که ممکن است در اثر اجرای این تفاهمنامه یا تفسیر مندرجات آن بین طرفین رخ دهد، توسط کمیته مشترک از طریق مذاکره حل میگردد و در صورتیکه کمیته مشترک نتواند آنها را از طریق مذاکره حل و فصل نماید، از طریق مسئولین و رهبری هر دو طرف بر اساس قوانین نافذه کشور قابل حل و فصل میباشد.

## آگاهي دهی از مصئونیت کاری

**ماده دهم:**

متخصصین وزارت انرژی و آب کار آموزان را در آغاز و جریان کار در مورد مصئونیت کاری راهنمائی مینماید.

## تصدیقنامه کارآموزی

**ماده یازدهم:**

در ختم دورهٔ کارآموزی تصدیقنامه به امضای مقامات وزارت آب و انرژی به کارآموزان اعطا میگردد.

## فسخ

**ماده دوازدهم:**

طرفین میتوانند در صورت دلایل موجه، دو ماه قبل فسخ برخی از موارد تفاهمنامه یا تمام تفاهمنامه را توسط ارسال مکتوب رسمی به جانب مقابل تقاضا نماید.